# له اداري فساد سره
# د افغانستان مبارزه
## د سولې او سوکالۍ لپاره حیاتي



UNAMA

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی
جون ۲۰۲۰

# اجرايي لنډيز

افغانستان په ۲۰۱۹ او د ۲۰۲۰ په لومړيو کې له اداري فساد سره د مبارزې د تدابيرو پلې کول جاري ساتلي، خو پر ولسمشريزو ټاکنو (۲۸ سپتمبر ۲۰۱۹) تمرکز او د رايو شميرنې اوږد مهاله پروسه کومه چې د دوامدارې پاملرنې څخه د پام اړولو لامل شوې ، اړتيا ليدله کيږي چې د اداري فساد پر وړاندې اجنډا پر مخ يوسي. مخکې تر دې چې د ټاکنو بحران حل شي، د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې د کورونا وايروس (کوويډ-۱۹) وبا اغيزو له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو بهير لا زيات ټکنی کړ. له اداري فساد سره د مبارزې د پخوانۍ ستراتيژۍ موده له کوم بديل/ځای ناستي پرته د ۲۰۱۹ په ډسمبر کې پای ته ورسيده؛ د دغې ستراتيژۍ ارزونه خورا ناوخته پيل شوې او لا تر اوسه نوې ستراتيژي نه ده طرح شوې. د دغو فاکتورونو ترکيب د اصلاحاتو په هغه بهير کې چې په ۲۰۱۷ کې پيل شوی او له ځانه سره يې ستره ژمنه درلوده چې ملاتړ يې د ويه قوي دولت د ژمنې په واسطه کيده د يوه ناهيله کوونکي اخلال څرګندوی دی. اوس مهال له اداري فساد سره د مبارزې ځانګړی دار الانشاء (سکرتريت) د تطبيق کوونکو ادارو او مدني ټولنې په همغږۍ له اداري فساد سره د مبارزې د ۲۰۱۷ کال د ستراتيژۍ د پايلو پر ارزونه کار کوي. دغه ارزونه به تر دې دمه د تر لاسه شويو برياوو او زده شويو لوستونو پر اساس له اداري فساد سره د مبارزې د دولت د نوې ستراتيژۍ د طرح کولو لپاره د يوه بنسټ په څير وکارول شي.

په ټوله کې قانوني کړنې او اداري فساد پر وړاندې د مبارزې مسايل ټکني شوي او تعديلي قوانينو ته راټيټ شوي او د نويو قوانينو د تصويب پر ځای د قانون په واسطه تدوين شوي. د قانوني او ستراتيژيکو چوکاټونو د پام وړ نه پراخولو او نه په بشپړ ډول تطبيقولو له امله ساختاري تشې لا پراخې شوې: د ۲۰۱۸ کال په سپټمبر کې له اداري فساد سره د مبارزې په قانون کې ياد شوی د اداري فساد کميسيون لا تر اوسه نه دی تاسيس شوی او په بيړني ډول اړين دی، له اداري فساد سره د مبارزې د نورو ادارو دندې بايد روښانه شي.توضيح کوي؛ له اداري فساد سره د مبارزې د څار او ارزونې ګډې کميټې په تدريجي توګه کارمندان او تمويل له لاسه ورکړی؛ له دولتي ادارو د خلکو د شکايتونو د غور او څيړنې د مامور/بازرس دفتر د ۲۰۱۹ کال په دويمه نيمه يي کې پرانيستل شو او د احتساب د زياتولو پوټنشيال لري، خو لا تر اوسه يې خپل حقوقي بنسټ نه دی توحيد کړی او خپلې چارې يې لا نه دي پيل کړي؛ د قانون د واکمنۍ او له اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا، چې په تيرو کلونو کې د اصلاحاتو خوځنده وسيله/موټر ګڼل کيده، د پخوا په پرتله چې په مياشتنې ډول به يې ناستې ترسره کولې په ۲۰۱۹ کال کې يوازې اووه ځلې ناستې ترسره کړي چې له امله د دې وړ نه وه چې د اصلاحاتو د رامنځ ته کيدو لپاره زمينه برابره کړي؛ او له اداري فساد سره د مبارزې او عدلي مرکز د پوليسو د يوه واحد له خوا په موثر ډول لا نه دی حمايت شوی. له بله پلوه، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون په عامه اداره کې د ريښتينولي د رامنځ ته کولو لپاره په ثابت ډول د اصلاحاتو عملي کول جاري ساتلي. سربيره پر دې، معلوماتو ته د لاس رسي کميسيون د اهميت څخه د برخمن کيدو په حال کې دی.

په ۲۰۱۹ کال کې، له اداري فساد سره د مبارزې او عدلي مرکز د تيرو کلونو (۱۸ په ۲۰۱۷ او ۱۷ په ۲۰۱۸ کې) په پرتله زياتې محاکمې (۲۳) ترسره کړي، سره له دې چې د کال په پای کې کميدونکي تمايل شتون درلود، په داسې حال کې د تورنو کسانو اوسط کچه راټيټه شوې. د دغه مرکز له خوا د ټاکنو د کميسيونونو د پخوانيو کميشنرانو محاکمه د يادونې وړ ده او د سياسي حساسو قضيو د سمبالولو په برخه کې يې د نوموړي مرکز ظرفيت يې په ډاګه کړ. له محاکمې مخکې له اداري فساد سره د مبارزې او عدلي مرکز د پريکړو د ردونې لوړه کچه د جزايي اجرااتو د قانون د حقوقي تفسيرونو او د څارنوالانو د ورتيا په اړه د مطرح شويو پوښتنو په اړه چې ل د محاکمې لپاره کافي شواهد را غونډ کړي د متدوامو يې باوريو ښکاروندوي دي. دغه مرکز د قانون د تنفيذ له کمزوري ملاتړ څخه کړيږي لکه څنګه چې په ځانګړي ډول د کلونو راهيسې د نيونې د د ټولټال ۲۵۵ حکمونو په بشپړ اجرا کې پاتې راغلی. د څارنوالانو او پوليسو له خوا د نيونې د يوه تازه او ګډ ليست په رامنځ ته کولو کې د پوليسو او څارنوالانو ترمنځ د همغږۍ د غښتلي کولو هڅو کومه پايله نه درلوده. د نوموړي مرکز د شلو څخه زياته سلنه محاکمې د تورنو کسانو په نشتون کې ترسره شوې. د کوويډ-۱۹ اړوند د زندان د احتقان (د زندانيانو د خوشې کيدو) هغه تدابير چې د عامه روغتيا د دلايلو له مخې لازمي وو، د هغو ملاتړيو د خوشې کيدو لامل شوي چې پ محکوم وو، کوم چې هغه برياوې پر شا تمبولې چې دغه مرکز يې د کټلو لپاره سخته مبارزه کړې. د بډو له لارې غلا شوې شتمنۍ بېرته ترلاسه شي څو دغه کار له اداري فساد سره د مبارزې د عدلي مرکز د محاکماتو لپاره د يوه پاييدونکي اغيز درلودونکی شي. په ټولو کچو کې د اداري فساد د پريکړو روڼتيا لا اوس هم يو ستونزمن کار دی. لا زياتې هڅې بايد ترسره شي چې پريکړې/حکمونه آنلاين پوسټ کړای شي.

مدني ټولنې له اداري فساد سره د مبارزې اړوندو اصلاحاتو په څارنه، اجرا او سلا مشورو کې د يوه پياوړي رول لوبول جاري ساتلي. له بله پلوه، ملي اجماع د قانون جوړونې، امتثال او څار د چارو په اړه خپله کار کردګي نه ده ښه کړې. په داسې حال کې

چې نوی پارلمان د ۲۰۱۹ کال د اپریل پر ۲۶ پرانیستل شو، خو د کابل انتخاباتي حوزې لپاره د ټاکنو د پایلو ناوخته اعلان او د ولسي جرګې د اداري هیئت او د پارلماني کمیسیونونو د داخلي ټاکنو اوږد مهالې پروسې د پارلمان کار لا پسې وځنډاوه. د یوه بهرني هیواد له خوا پر اداري فساد تر محکوم کیدو ورسته د یوه سناتور ګوښه کیدل په ملي اجماع کې د یو څه احتساب د نښې ښکارندوی وه.

په ۲۰۲۰ کال کې، د افغانستان د بیا رغونې له مالي وجهي صندوق سره د ژمنو او مرستو په ګډون (په بودجه کې داخل او له بودجې بهر)، د مرستندویانو اوسنۍ ژمنې به بیا وکتل شي، او هیله ده چې له سره به نوې شي. په افغانستان کې د مرستندویانو د لیوالتیا د کمیدو او دغه راز د ګڼ شمیر رقابتي لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره، داسې ښکاري چې افغان دولت باید په لږو امکاناتو ډیر څه ترسره کړي. د اداري فساد ویجاړونکې ستونزې ته رسیدګي، او تر یوه بریده له اداري فساد سره د مبارزې د یوې موثرې ستراتیژۍ جوړول او تطبیقول به د مرستندویانو د باور په بیرته ترلاسه کولو کې یو څه مرسته وکړي او د برابره شویو مرستو د غوره کارونې لپاره به زمینه برابره کړي.

دغه راپور د دې سپارښتنه کوي چې دولت یوه داسې واقعي اوږد مهاله ستراتیژي جوړه کړي چې وکولای شي د تیر لاسته راوړنې وساتي؛ دا چې له اداري فساد سره د مبارزې کمیسیون ژر تر ژره تاسیس شي؛ دا چې د اداري فساد تورونو څیړلو او اړوندو نیونو ته ځانګړې شوی د قانون د تنفیذ ظرفیت غښتلی شي؛ دا چې د عامه سرچینو څار او مدیریت پیاوړی شي؛ او دا چې عدلي خپلواکۍ ته د ودې ورکولو له لارې د عدلي سکتور اصلاحاتو ته لومړیتوب ورکړل شي. راپور د دې سپارښتنه کوي چې عدلي سکتور د خپل کار شفافیت او احتساب ښه کړي او په خپلواک ډول د اداري فساد د قضیو په اړه قضاوت وکړي. راپور دغه راز د دې سپارښتنه کوي چې ملي اجماع له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو په عملي کولو کې مرسته وکړي په داسې حال کې چې داخلي احتساب او ریښتینولي غښتلي کړي. راپور همدارنګه د دې سپارښتنه کوي چې مدني ټولنه او نړیواله ټولنه له اداري فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو ملاتړ وکړي.